هغه څه چې تاسو ورته اړتیا لرئ پوه شئ

## خپل ځان او نور محافظت یا خوندي کړئ



# د نفرت جرمونه

د نفرت جرم څه شی دی؟

ولې تاسو باید د نفرت جرمونو او تعصب پیښنو راپور ورکړئ ؟

څنګه هغه ملاتړ او کمک ترلاسه کړئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ

## د نفرت جرم یا تعصب پیښنه؟

هر هغه عمل یا د عمل کولو هڅه چې د تعصب پر بنسټ د جزایی قانون څخه سرغړونه کوي ممکن د تعقیب وړ جرم وي.

په فدرالي کچه، د نفرت جرمونه هغه جرمونه دي چې د نژاد، رنګ، مذهب، ملي اصل، جنسي تمایل، جندر، جنسیت پیژندنې، یا معلولیت پر وړاندې د تعصب پر بنسټ ترسره کیږي. د دولت قوانین ممکن د نفرت جرمونو دولتي یا محلي تعقیب ته هم اجازه ورکړي.

ټول هغه نفرت لرونکی چلند، د کرکې وینا په ګډون، جرم نه دی. د تعصب کړنې چې جرم نه وي او تاوتریخوالی، ګواښونه، یا ملکیت ته زیان پکې نه وي د تعصب یا کرکې پیښې ګڼل کیږي - کرکه او ځورونکي دی مګر جرم نه ندي. په هرصورت، سیمه ایزو او د ښار پولیسو او ښار استازو ته د دا ډول پیښنو راپور ورکول کولای شي د دوی سره زموږ د ټولنې په تعلیم، پوهاوی،خبرتیا او ساتنه کې مرسته وکړي. پداسې حال کې چې د نفرت بیان یوه جدي ستونزه ده، دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې هرڅوک چې د نفرت بیان کاروي د نفرت جرم نه کوي. دا مهمه ده چې د هر ډول تعصب یا کرکې وینا پیښې راپور ورکړئ، ځکه چې د دې پیښنو اسناد په احتمالي توګه د نمونې او انګیزې ښودلو لپاره په جرمي عمل کې کارول کیدای شي.




## کرکه یا نفرت جرمونه نه یوازې قرباني، بلکې ټوله ټولنه اغیزمن کوي.




د کرکې یا نفرت جرمونه د قربانیانو له زیان څخه بهر ویجاړونکي اغیزې لري. د کرکې جرمونه نه یوازې په قربانیانو اغیزه کوي، بلکې د کورنیو، ټولنو او ملت له لارې بیا تکراریږي ځکه چې نور خلک ویره لري چې دوی به هم ګواښل شي، برید به په وشي، او د نفرت جرمونه ښکار به شی او داسې نور.

فدرالي خوندي طبقی:

- نژاد، رنګ، ملي اصل
- دین
- معلولیت، جنسي تمایل
- کورنی حالت
- جنس ، جنسیت
- جنسی هویت

HTTPS://TIPS.FBI.GOV

# خپل ځان او نورمحافظت یا خوندي کړئ

## که تاسو د نفرت جرم قرباني یاست

### راپور ورکړئ

- سمدلاسه د خپل محلي قانون پلي کونکي اداري سره اړیکه ونیسئ بیا یې FBI ته راپور ور کړئ.

### ولیکئ یا مستند یې کړئ

- د امکان تر حده ډیرې توضیحات یاد کړئ: عمر، د پوستکي رنګ، د مخ ویښتان، قد/وزن، جامې، داغونه/ټاټو، د موټر توضیحات او نور. یوازې د هغه شخص یا د هغه موټر عکس یا ویډیو واخلئ که چیرې دا کار تاسوته خوندي وي. داسې وکړئ.
- هغه دقیق ټکي ولیکئ چې ویل شوي. توضیحات ولیکئ پداسې حال کې چې دا معلومات ستاسو په ذهن کې تازه وي. په خپل تلیفون کې د غږیز یاداشت فیچر یا نوټ پیډ وکاروئ.
- ټول شواهد خوندي کړئ (د بیلګې په توګه ، بریښنالیکونه ، د پوستونو سکرین شاټونه ، د زیان عکسونه او نور).
- د ټولو قربانیانو او شاهدانو نومونه او د اړیکو معلومات ترلاسه کړئ.

### ملاتړ ترلاسه کړئ

- تاسو یوازې نه یاست - ملګرو، د ټولنې ډلو، د قربانیانو مالتړ ډلو سره تماس ونیسی.

## تاسو یوازې نه یاست

د نفرت جرم یا تعصب پیښه کیدای شي د یو فرد یا ډلې په وړاندې ترسره شي، مګر مورږ ټول کولی شو خپله برخه ترسره کړو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې زموږ د ګاونډیانو او د ټولنې ټول غړي د خوندیتوب احساس کوي:

- د نفرت او تعصب پر ضد خپل غږ پورته کړئ
- خپل په ټولنه کې د ملاتړ لاریونونه ترسره کړئ
- قربانیانو ته د مرستې او ملاتړ وړاندیز وکړئ
- د خپل سیمه ایز قانون پلي کولو، محلي حکومت، ښوونځیو، مذهبي سازمانونو او ټولنې ډلو سره کار وکړئ ترڅو د کرکې جرمونو او تعصب پیښو ته ځواب ووایی کله چې دوی پیښیږي او د مخنیوي او پوهاوي ته وده ورکړي.




## د نفرت جرمونو راپور ورکړئ

### پولیس ته تلیفون وکړئ

د پیښې په اړه خپل د محلي پولیسو څانګې یا پولیس سټیشن ته راپور ورکړئ

که تاسو په خطر کې یاست،

**۹۱۱ ته زنګ ووهئ**

### FBI ته زنګ ووهئ

د FBI سره په تماس کې د کرکې ټول جرمونه راپور کړئ

**1-800-CALL-FBI**

### آنلاین راپور ورکړئ

د پیښې راپور ورکولو لپاره د FBI آنلاین پورټل وکاروئ تاسو کولای شئ خپل هویت پټ وساتئ.

**TIPS.FBI.GOV**